لایق جان خوستی ۲۰۱۷/۰۷/۱۹

# د اروپا سره د امریکې په اړیکو کښې ځنګه بدلون راغلو؟

د دکتور هشام مراد په قلم (د عربی دیپلوماتیک لوموند ځخه)

*ژباړونکی : لایق جان خوستی - قاهره*

پدی کې شک نشته چې د امریکې او اروپا اړیکې د دویم نړیوال جنګ ځخه وروسته د ډېر بد حالت ځخه تیرېږي. دا هغه وخت ځرګنده شوه چې د ناټو سازمان غونډه د مئ میاشتې په ۲۶ ترسره شوه او همدا ډول د اوو صنعتي هېوادونو په هغه غونډه کې چې د جون میاشتي په ۲۶ او ۲۷ ترسره شوه او په لومړي ځل پدی غونډه کې د امریکې ولسمشر ډونالډټرامپ ګډون وکړ. دا دواړه غونډې ددی لپاره وی چې د امریکې سیاست یکې ځرګند شی په خاصه توګه د امریکې متحده ایالاتو د اروپایي ملګرو د امنیت په هکله چې امریکه ځومره د هغوی امنیت ته ژمنه ده. د ولسمشر ټرامپ ځرګندونو د اروپایي مشرانو هغه اندیښنی لا پسی ریښتیني کړی که چیرته واشنګټن د پخوانی درېز او ژمنی ځخه په شاشي چې د ناټو سازمان په هکله پخواني مسوده او موافقه کې د بهرنیو خطرونو په مقابل کی د اروپا امنیت باید امریکه وساتی.

پدی کې شک نشته چې د ټرامپ ځرګند درېز دا وو، هغه پدی ټینګار ونکړو چې ګني امریکه به د ناټو سازمان د پنځمي مادی سره سم چې باید د ناټو سازمان غړي د بهرنیو ننګونو په مقابل کې متبادله دفاع وکړي، که چیرته د ناټو سازمان یو هیواد هم د کومي بهرنی ننګونی سره مخامخ کیږي. ددی حالت ځخه داسی انګیرل کیږي چې امریکه غواړي د پخوانی هغه پریکړی او ژمنی ځخه شاته شي چې د اروپا امنیت به ساتي او په اروپایي ملګرو باندی پیشار زیاتوي چې په دفاعی بودیجه کي زیاتوالی راولي.

دا لمړی ځل دی چې د دویم نړیوال جنګ ځخه وروسته امریکه د اروپایي ملګرو سره د سیاسي او امنیتي هوکړو ځخه شاته کیږي. او ولسمشر ټرامپ په ډاګه اورپایي مشرانو باندي نیوکه کړی وه چې په د ناټو سازمان په داخل کې باید دفاعی بودیجه زیاته کړي، او ده ویلی وو چې غواړي واشنګټن په مالي برخه کي د بهرنی دفاعی بودیجې کمول غواړي، په خاصه د ناټو په سازمان کې.

چانسلری میرکل هم دا درېز لا د مخه ځرګند کړی وو چې د اورپایي مشرانو یې غوښتنه کړی وه چې د راتلونکې لپاره باید د امریکې په متحده آیالاتونو باور ونکړی بلکه د خپل امنیت او دفاع لپاره باید په خپله لاس په کار شي، ترڅو د امریکه یې ولسمشرانو د خوښي او نا خوښي ترمینځ پراته حالت ځخه ځان اوباسو چې د اروپا د امنیت لپاره په پخوانیو پریکړو وفا کوی او که نا. د میرکل لخوا داسی ځرګندونی دا په ډاګه کوی چې اروپا باید خپل دفاعی او


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

امنیتی مسئولیتونه په خپله غاړه واخلي او مادی امکانات باید ورته برابر کړی، همدا ډول د داسی پلانونو جوړول چې ترڅو په ستراتیژیکه توګه په خپلواک ډول اروپا خپل امنیت او دفاعی حالت پیاوړی کړی. ددی مطلب دا ندی چې ګني میرکل د واشنګټن سره د همکاریو پریکول غواړي بلکه میرکل پوهیږی چې د اروپا امنیت د امریکي دفاعی قدرت څخه پرته پدی سخت ننګوونکی وخت کي نشی ساتل کیدای، ځکه اروپا په خپل سره پدی بد حالت کي د بهرنی ننګونی په مقابل کی خپل امنیت نشی ساتلی.

حقیقت دادی چې ټرامپ د اروپا د امنیت په هکله درېز د انتخاباتي شعار څخه معلومیدو چې (لومړۍ امریکه)، او اورپایی هیوادونه پدی پوهیدل په خاصه توګه لوي اروپایي هېوادونه چې په تیرو څو کلونو کي ددوي عسکري قوت په پراخه توګه شاته پاتی دی، د وسلو په برخه کي اروپایي هیوادونه په تیرو لسو کلونو کي ډېر شاته پاتي شوی، چې تقریبا د حمله کوونکو هلیکوفترو شمیره ٥٢%  سلو کي کمه شوی، د جنګي جټ الوتکو اندازه نږدی ٣٠% په سلو کي کمه شوی، د جنګي بیړیو کچه نږدی ١٥% په سلو کي کمه شوی، د اتومي اوبتلونو شمیره ١٦% په سلوکي کمه شوی، او د عادی اوبتلونو شمیره ٢٢% په سلو کي کمه شوی، همدا ډول د اروپایي هېوادونو پوځونو شمیره هم په همدغه موده کي ٢٣% په سلو کي کمه شوی، په همدغه موده کي نږدی ٤٥١ زره عسکرو شمیره کمه شوی، پدی لړ کي جرمني نږدی ٣٧% په سلو کي د پوځیانو شمیره کمه کړی چې (١٠٨) زره عسکر کیږي، بریتانیه ٣٠% په سلو کی خپل پوځ کم کړی چې (٤٦ زره) عسکر کیږی، فرانسی ٢٠% په سلو کي چې (٥٢ زره) عسکر کیږي، همدا ډول پولنډ هم ٣٠% په سلو کي چې (٤٢) زره عسکر کیږي کم کړی دی. حقیقت هم دادی چې د اروپا پرته نور لوی هېوادونه هم خپل قواتونه راکموي خو په اروپا کي د پوځونو کمول د نورو په مقابل کي ډېره زیاته ده چې د امریکي او روسیي بلکه د چین په مقابل کي شېږ ځله زیات کمښت بلل کیږي.

ددی بلعکس اروپایي هېوادونو د ناټو سره په هغه ژمنه هم وفا نده کړی چې د هېواد د عائداتو ٢% په سلو کي به د دفاعی چارو لپاره استعمالوی، د ناټو په سازمان کي د اروپا غړو هېوادونو یوازی ١،٢% په سلو کي د داخلی عائد بودیجه په عسکری برخه مصرف کړی، چې دا اندازه د امریکي په مقابل کي بیخي لږه ده ځکه امریکه ٣،٣% په سلو کي د عوائدو په عسکري برخه مصرفوي، او روسیه بیا ٣،٧% په سلو کي مصرفوي چې ددوي په مقابل کي چین بیا یوازی ١،٣% په سلو کي عوائد په عسکري برخه مصرفوي، خو بیا هم چین په تیرو لسو کلونو کي نږدي لس په سلو کي خپله دفاعی بودیجه زیاته کړی. ترڅو اروپا د ناټو سازمان غوښتني ته ژمنه پاتی شی دوي باید د کال ٩٨ ملیارده یورو په عسکري چارو مصرف کړي.

لویو هېوادونو د هغه وروسته د عسکري بودیجي په کمولو پیل وکړ چې د ١٩٩١ کال د ډیسمبر په میاشت کی د شوروي اتحاد په نړیدو سره سړه جګړه هم پای ته ورسیده، پدی برخه کي اروپایي هېوادونه لومړي ول چې دا کار یې ترسره کړ ځکه دوي باوري شول چط نوي زمانه پیل او د لویدیځ لیبرال نظام په کمونیستي نظام بریالی شو. خو په دوه زرمو کلونو کي د تروریزم څرګندیدل چې په سر کي د تروریزم پدیده وه، او همدا ډول د پوتین په مشری د روسیي یوځل بیا راپورته کیدل چې د غرب سره سیالي کول یو ځل بیا راژوندي کړل، اروپا یې هېوادونه دی ته مجبور شول چې یوځل بیا دفاعي برخي ته د سره کتنه وکړي او خپل پوځونه قوي کړی.

ددی ترڅنګ د ولسمشر ټرامپ لخوا د اروپا د امنیت ساتلو په هکله په شاتګ او همدا ډول نور علتونه دی چې د امریکي متحده ایالاتو او د اروپا لویو هېوادونو ترمینځ واټن زیاته وي، چې په سر کي المان راځي چې د اروپا لوي

اقتصادی هېواد بلل کیږي. ولسمشر ټرامپ د برلین د تجارت په سیاست باندی نیوکه کړی چې د ټرامپ په نظر د جرمني اقتصادی سیاست د امریکي سیاست ته زیان اړوي. همدا ډول ټرامپ د جون میاشتی په لومړیو کی د پاریس د اقلیم د بدلون موافقي څخه هم په شاشو چې اروپايي هېوادونو ډېر کوښښ وکړ ترڅو ټرامپ ته قناعت ورکړی. اروپايي مشران پدی نظر وو چې ګوندی ولسمشر ټرامپ به نور هم معتدل سړی وی چې د کمپاین په وخت کی کوم نظر او دریځ درلودو، خو اوس ددوي هیلي په اوبو لاهو شوی.

پدی کي هم شک نشته کله چې د ۲۰۱٦ م کال د جون په میاشت کي بریتانیي پریکړه وکړه چې د اروپایي ټولنی څخه ووزي اروپایي مشرانو ته دا معلومه شوه چې باید دفاعي چارو ته پاملرنه وکړي او داسی څه باید رامینځ ته کړی چې د ناټو سازمان سیالي وکړل شي، انګیلامیرکل پدی باور ده چې د ناټو په سازمان کي د امریکی د خپلو ژمنو څخه په شا کیدل او د بریطانیه د اروپايي ټولني څخه وتل پدی معنی دی چې باید په راتلونکی د پیښیدونکي ننګونو په لړ کي پدوی باندی باور نشو کولای. له همدي کبله باید خپلواک اروپایي عسکري قوت رامینځ ته کړو.

د میرکل لپاره د فرانسي په ټولټاکنو کي د ایمانویل ماکرون کامیابیدل هغه ښه چانس بلل کیږي چې نومړي کولای شی د خپلي دفاعی پروژی د کامیابیدو لپاره کار وکړي. د فرانسی نوي ولسمشر د اروپایي ټولنی د قوی کولو د ملاتړو څخه شمیرل کیږي چې پدی برخه کي د اروپايي هېوادونو د فاعی قوت هم شامل دی. او دا هم څرګنده خبره ده چې د بریتانیي د اروپایي ټولنی څخه د وتلو وروسته د اروپایي ټولني د پرمختګ چاري د المان او فرانسی په اوګو پریوزي ځکه دوي دواړه د اروپا لوي اقتصادی قوتونه دی.

ولی د اروپا خپلواکه دفاعی جوړښت رامینځ ته کولو لار په ګولونو نده هواره، ځکه لومړی د المان او فرانسی ترمینځ ددی ډول جوړښت د رامینځ په هکله چې په کوم میکانیزم به جوړیږي او د ناټو سازمان سره د همغږی رامینځ ته کول دا ټول هغه موضوعات دی چې لاېرې موافقه نده شوی. ددی ترڅنګ باید د اروپا نورو هېوادونه هم دی ته قانع کړی چې ممکن نور هېوادوه ددی پروژی مخالف وی اود ناټوسازمان او د امریکي د عسکري مشری د باندی کومی نوي کړنی سره مخالفت څرګند کړي. ددی ستونځي د هوارولو لپاره برلین او پاریس داسی وړاندیز کوی چې که چیرته د کومو هیوادونو لپاره د اروپا امنیت اهمیت لري او د اروپا د ګډ امن ساتلو پروګرام سره لیوالتیا لري. بیاهم جدي پالیسی باندی کارکول دادی چې اروپایي هېوادونه به د دفاعی بودیجې په زیاتولو باندی سخت شرطونه لګوي ترڅو خپلي وسلي، او روزنیزی ګډي منوري پراخه کړی او د اروپایي هېوادونو په داخل کي وسلوال قوتونه سره همغږي کړي.